دافغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۳۶

نېټه: ۱۴۴۴/۵/۹ هـ ق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د دفتر د ګڼه (۲۸۸) مورخ ۱۴۴۴/٤/۱۵هق مکتوب په توسط د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله فرمان رارسيدلی چې په هغه کې د سترې محکمې محترم مقام ته هدايت شوی تر څو ټولې محکمې د لاندې هداياتو په عملي کولو مکلفې کړي:

((۱ ـ ابتدائيه محکمې دې دوسيې په يوه نيمه مياشت کې څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په ياده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

۲ ـ مرافعه محکمې دې دوسيې د شلو ورځو څخه تر يوې مياشتې موده کې څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په ياده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

۳ ـ د تميز رياستونه دې دوسيې د شلو ورځو څخه تر يوې مياشتې موده کې څېړي، که کوم رئيس معقول او شرعي عذر ولري او په ياده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

٤ ـ ټول قاضيان دې د حدود او قصاص دوسيې په عاجله توګه څېړي، يادو قضيو ته د لومړيتوب حق ورکړئ!

۵ ـ ټول قاضيان دې هغه جنائي قضيې چې بنديان لري، په عاجله توګه څېړي.))

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته ذکر شوی فرمان مو د سترې محکمې محترم عالي مقام ته پيشنهاد کړ، عالي مقام يې په اړه داسې هدايت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام په فرمان کې د (۱) څخه تر (۵) شميرې پورې هدايات چې د محاکمو د اجراآتو په باره کې دي، ټولو محکمو ته دې په متحدالمآل شکل واستول شي.

ټولې محکمې مکلفې دي چې د خپلو کارونو په ترسره کولو کې د مشرتابه محترم عالي مقام ذکر شوي هدايات په جدي ډول په نظر کې ونيسي او عملي دې کړي.))

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلورلارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدايات د ستري محکمې د محترم مقام د هدايت مطابق ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۹ جمادی الاولی ۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

د افغانستان اسلامي امارت

**د مشرتابه مقام دفتر**

گڼه: ۲۸۸

نېټه: ۱۴۴۴/۴/۱۵هـ ق

عاجـل: ☐ عادي: ☐

ابلاغیه: ☐ محرم: ☐

بسم الله الرحمن الرحيم

**د ستري محکمې محترم مقام ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

صحت او عافیت مو الله جل جلاله په نصیب کړه!

وبعد: ټولي اړونده محکمې د لاندي هدایاتو په عملي کولو مکلفي کړئ!

۱. ابتدائیه محکمې دي دوسیې په یوه نیمه میاشت کي څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کي اجراءآت نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندي کوي.

۲. مرافعه محکمې دي دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتي موده کي څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کي اجراءآت نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندي کوي.

۳. د تمیز ریاستونه دي دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتي موده کي څېړي، که کوم رئیس معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کي اجراءآت نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندي کوي.

٤. ټول قاضیان دي د حدود او قصاص دوسیې په عاجله توگه څېړي، یادو قضیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ!

٥. ټول قاضیان دي هغه جنائي قضیې چي بندیان لري، په عاجله توگه څېړي.

٦. د تفتیش او تدقیق په تشکیلاتو کي دي پنځلس تنه اضافه شي، لس تنه په ستره محکمه کي او پنځه تنه د جنوب لوېدیځ زون د تمیز په عالي ریاست کي.

٧. کله چي په یو دیوان کي کارونه لږ وي، ستره محکمه کولای شي چي د یاد دیوان د قاضیانو، مفتیانو او محررینو څخه په بل داسي دیوان کي چي کارونه یې ډېر وي، د مکتوب د صدور د نېټې څخه بیا تر یو کال پوري د استخلاف په طریقه سره استفاده وکړي، ترڅو د کارونو ازدحام کم شي.

**والســــلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

واردې گڼه: ۱۳۰

۱۴۴۴/۴/۲۷

د ستري محکمې مقام دفتر

ربیع الثاني ۱۴۴۴ هق